


د شیخ طریقت، امیرِ اہلسُنّت حضرت علّامه مولانا ابو بلال محمد الیاس عطّار
قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د ملفوظاتو ګلدسته

## د امیرِ اهلِسُنّت نه

# د قرآن د تلاوت

## په باره کښې سوال او جواب

پښتو

- آیا د مازیګر د لمونځ نه پس د قرآنِ پاک تلاوت کولے شي؟
- هره ورځ د قرآنِ پاک څومره تلاوت پکار دے؟
- په هدیره کښې په تیز آواز قرآن لوستل څنګ دي؟
- د قرآنِ کریم غلط لوستلو یو څو مثالونه

پیشکش:
مجلس المدینة العلمیه (دعوتِ اسلامی)
ترجمو:
ټرانسلیشن ډیپارټمنټ (دعوتِ اسلامی)

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖنَ،
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

# د امیرِ اهلِسُنَّت نه د قرآنِ پاک په باره کښې سوال جواب

**دُعائے جانشینِ عطّار:** یا الله پاکه ! څوک چې دا رساله ” د امیرِ اهلِسُنَّت نه د قرآنِ پاک په باره کښې سوالونه او جوابونه “ اولولي که واوري هغه له د قرآنِ کریم د تلاوت کولو او په دې باندې د عمل کولو توفیق ورکړې او هغه بے حسابه اوبخښې.

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## د دُرُود شریف فضیلت

**د آخري نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے:** د قیامت په ورځ به په خلقو کښې ما ته ډیر نزدې هغه وي چا چې په دُنیا کښې په ما باندې ډیر درودِ پاک لوستلي وي.

(ترمذی، 27/2، حدیث: 484)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

**سوال:** آیا قرآنِ پاک بغیر د پوهې یعني د ترجمې نه بغیر په لوستلو ثواب

کیږي ځکه چې مونږ ته پته نه وي چې مونږه څه لولو؟

جواب: په قرآنِ پاک بغیر د پوهیدو یعنې د ترجمے نه بغیر په لوستلو به ثواب میلاویږي. ځکه دې د غلطې پروپیګنډې کولو سره مسلمانان د قرآنِ کریم نه نۀ لرې کولے کیږي چې پوهیږې پرې نه نو د لوستلو څه فائده؟ په لمُونځ کښې خو هم سورۀ فاتحه او نور کوم سورتونه لوستلے شي په هغې خو هم نه پوهیږي. چې ثنا لولې د هغې معنٰی هم معلومه نه وي، که د بِسمِ الله د ترجمے پوښتنه اوکړے شي نو خلق سترګې ښکته کړي نو اوس آیا لمُونځ کول او بِسمِ الله وئیل هر څه پریږدو؟ یقیناً داسې خبره نه ده ځکه که په قرآنِ کریم پوهیږې هم نه بیا هم لوستل پکار دي.

(ملفوظاتِ امیرِ اهلسنت، 407/1)

سوال: قرآن پاک دومره تیز وئیل چې حروف اوخوري، څه حکم لري؟

جواب: قرآنِ کریم بالکل داسې لوستل پکار دي لکه مُنَزَّلٌ مِّنَ الله یعنې د الله پاک د طرف نه نازل کړے شوے دے خو نن سبا زر زر او په منډه منډه انداز کښې قرآنِ کریم لوستلے شي او د یَعلَمُونَ تَعلَمُونَ نه سِوا په هیڅ هم پوهه نه شي ځکه به دې ته د مُنَزَّلٌ مِّنَ الله په شان لوستل نه وئیل کیږي بلکه دې ته به قرآن لوستل نه وئیل کیږي چې دا بالکل بدلیږي او په داسې لوستونکو باندې قرآنِ کریم لعنت وائي. ممکنه ده چې په بعضو باندې زما خبرې بدې لګې او بدې لګیدل هم پکار دي د پاره د دې

چې د توبې توفيق ئې نصيب شي. زر زر قرآنِ پاک لوستونکي ولې عوام بې وقوفه جوړوي چې مونږه قرآنِ پاک لولو؟ څه چې تاسو لولئ سيدها ساده مسلمانان هغه قرآن او تاسو نيک انسان ګڼي حالانکه بعضې وخت زر زر لوستل په ګناه کښې اخته کوي. که څوک د تجويد د قاعدو سره صحيح قرآن لولي نو تراويح هم وخت اخلي خو دلته خو په خپل مينځ کښې مقابلې وي. څوک وائي زمونږ ځائے کښې په 35 منټو کښې تراويح کيږي او څوک وائي زمونږه قاري صاحب خو د "خيبر ميل" (ريل ګاډي) په شان تيز دے او په 25 منټو کښې تراويح کوي. ياد ساتئ! روژه او قرآن به د بنده د پاره د قيامت په ورځ شفاعت کوي، روژه به عرض کوي: اے رَبِّ کريمه! ما د خوراک او خواهشاتو نه په ورځ کښې دے منع کړو زما شفاعت د دوئي په حق کښې قبول کړه. قرآن به وائي ما دے د شپې د اوده کيدو نه منع کړو زما شفاعت د ده په حق کښې قبول کړه. بس د دواړو شفاعتونه به قبول شي.

(مسند امام احمد، 2/586، حديث: 6637)

که چرې د روژې او د قرآن شفاعت پکار وي نو د دې به احترام کول وي او قرآن به صحيح لوستل وي.

په عامو خبرو کښې هم د زر زر وئيلو په وجه حروف خوړلے کيږي لکه څنګه چې عام طور خلق د سُبْحٰنَ الله په ځائے د سُبَانَ الله وئيلو سره

”ح“ خوري. دغه شان عامو خلقو له خو نه په صحيح طريقه ”بِسمِ اللهِ الرَّحمٰنِ الرَّحِيْم“ او کلمه شريف لوستل ورځي او نه مَاشَآءَ الله، اِنْ شَآءَ الله او اَلْحَمْدُ لِلّٰه وئيل ورځي. عام طور خلق اِنْ شَآءَ الله ته اِنْ شَا الله او اَلْحَمْدُ لِلّٰه ته اَلْمْدُ لِلّٰه وائي مثلاً: ”اِنْ شَا الله زه راځم“ يا ”اَلْمْدُ لِلّٰه طبيعت ښه دے“ حالانکه ما په مدني مذاکرو وغيره کښې دا کلمات وئيل څو ځله ښودلي دي خو بيا هم صحيح نه وايو ځکه چې غلط وئيل مو عادت وي. داسې ډير خلق قرآن ته قُرَان وائي.

(ملفوظاتِ امیر اهلسنت، 355/2)

سوال: د يو څو کسانو په شريکه په جمات کښې په تيز آواز کښې قرآنِ پاک لوستل څنګه دي؟

جواب: يو څو کَسان چې په شريکه په جمات کښې په تيز آواز قرآنِ پاک لولي نو دا طريقه غلطه او جائز نه ده. (بهارِ شريعت، 552/1، حصه:3ماخوذاً) البته که يو کَس ځکه په تيز آواز قرآنِ پاک لولي چې درې څلور کَسان لرې ناست دي او اوري ئې او د هغه په آواز باندې لَمونځ کوونکو يا نورو قرآنِ پاک لوستونکو ته تکليف نه رسي يعني هغه خلقو ته داسې آواز نه رَسي په کوم چې پوهه شي نو دا طريقه صحيح ده. بعضې خلق د جُمات په وړومبي صف کښې په قطار کښې کښيني او په تيز آواز تلاوت کوي خاص طور په رمضان کښې داسې کيږي نو داسې کول جائز نه دي. دغه

شان په دریمه او څلویښتمه کښې یا داسې په رمضان کښې خلق د قرآنِ پاک ختم کوي کوم چې ښه کار دے خو په دې کښې ټول په شریکه په تیزه تیزه لولي دا صحیح نه دي، دوئي له پکار دي چې په دومره آواز کښې ئې لولي چې پخپله ئې اوري او نورو ته آواز نه رسي البته که یو کَس ئې وائي او ټول ئې په توجه سره اوري نو دا ټیک ده. بعضې خلق نورو ته وائي چې ما په اِعتکاف کښې درې ځله د قرآنِ پاک ختم اوکړو، ما پینځه ځله د قرآنِ پاک ختم اوکړو خو صحیح خبره دا ده چې په دوئي کښې زیاتو له په صحیح طریقه سورۂ فاتحه، سورۂ اخلاص بلکه اَعُوۡذُ بِاللّٰه او بِسۡمِ اللّٰه وئیل هم نه ورځي خو هغوئي پینځه ځله د قرآنِ پاک د ختم کولو وائي. داسې خلقو له پکار دي چې په ټول رمضان کښې یو ځل د ټول قرآنِ کریم ختم اوکړي یا بیا نیم قرآنِ پاک یا لس سیپارې اولولي خو د صحیح مخارجِ سره دې ئې لولي. که قرآنِ پاک ورله د صحیح مخارج سره لوستل نه ورځي نو زده کول ضروري دي. نن سبا خلقو له هر څه ورځي خو د قرآنِ پاک صحیح لوستل ورله نه ورځي. په خدائے مې دې قسم وي! دا ډیره د محرومۍ او بد نصیبۍ خبره ده! اُردو راځي، انګلش ډیر ښه راځي تر دې چې بعضې خلق په فخر سره دا وائي چې زما اُردو او انګریزي ډیره ښه ده خو داسې خلقو له قرآنِ پاک د کتلو سره لوستل هم نه ورځي او هغوئي ته تعلیمِ یافته هم وئیلے شي حالانکه داسې خلقو ته څنګه تعلیم یافته وئیلے کیدے شي؟

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د عاشقانِ رسول دیني تحرک دعوتِ اسلامي تحت د مدرسة المَدینه برائے بالغان په نوم سره په زرګونو مدرسې جوړې دي او عام طور دا د ماسخُتن د لمُونځ نه پس د علاقو په جُماتونو کښې هم لګولے شي. په دې کښې دعاګانے، د طهارت او لمُونځ وغیره حکمونه ښودلے شي څکه تاسو په دې کښې داخله واخلئ. په مدرسة المَدینه برائے بالغان کښې هیڅ پیسې نه لګي ولې که انګلش یا بَله یو ژبه زده کول وي نو کوچنګ سنټر ته تلل وي، رَتې لګول وي، پیسې ورکول وي او دې د پاره خلق څه څه نه کوي خو که قرآنِ کریم ورته مفت ښائي نو بیا هم د لوستلو د پاره نه راځي او وائي چې مونږ ته نه یادیږي او که لولي ئې هم نو په دې انداز سره چې قاعده اولولي او بیا ئې هم هلته کیږدي او په بله ورځ راشي او برسیره ئې کړي نو داسې به څنګه یادیږي؟ په دنیائي علومو کښې ډیر څه زده کوي خو قرآنِ کریم د مخارج سره نه زده کوي. چې د دنیائي علومو زده کولو د پاره تاسو کوشش کوئ نو د قرآنِ پاک د مخارج سره د لوستلو د پاره به هم کوشش کول وي. بعضې خلق عذر وړاندې کړي چې زمونږ سره وخت نشته خو حقیقت دا دے چې وخت شته خو د لوستلو جذبه نشته، اللّٰه پاک دې جذبه را نصیب کړي.

(ملفوظاتِ امیر اهلسُنت، 356/2)

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

سوال: آیا د مازدیګر د لمُونځ نه پس قرآنِ پاک لوستلے شي؟

جواب: آو جي! د مازدیګر د لمُونځ نه پس تلاوت کولے شي. البته د لمَر پریوتو نه 20 منټه مخکښې، د لمَر راختو نه 20 منټه وروستو او د نِصفُ النَّهار شرعي نه تر د ماسپخین وخت شروع کیدو پورې دا درې وارہ وختونه مکروه دي. اګرچه په دې دریو وارو وختونو کښې د قرآنِ کریم تلاوت کول جائز کار دے خو بهتره دا ده چې په دې کښې نور ذکرونه یا دُرُود شریف اولوستلے شي. خو که څوک په دې وختونو کښې د قرآنِ کریم تلاوت کوي نو ګنهګاریږي به نه.

(در مختار مع رد المحتار، 2/44 ماخوذاً) (ملفوظاتِ امیر اهلسُنت، 1/435)

سوال: په رَمَضَانُ المُبَارَک کښې څو ځله د قرآنِ کریم ختم پکار دے؟

جواب: په تراویح کښې یو ځل د قرآنِ پاک ختم سُنت دے. (فتاویٰ رضویه، 7/458 ماخوذاً) د دې نه علاوه چې څومره هم توفیق وي هغه همره دې اولوستلے شي ځکه چې د ثواب کار دے او افضل دے. زمونږ امامِ اعظم ابو حنیفه رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَيۡه به یو ځل د قرآن ختم په ورځ کښې، یو په شپه کښې او یو د قرآن ختم د روژې په ټوله میاشت په تراویح کښې کولو. داسې به هغوئي رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَيۡه په رَمَضَانُ المُبَارَک کښې 61 ځله د قرآنِ پاک ختم کولو.

(الخیرات الحسان، ص50) (ملفوظاتِ امیر اهلسُنت، 2/379)

سوال: زمونږ په ځائے کښې د ماسخُتن د لمُونځ نه پس د سورۂ ملک

تلاوت کولے شي نو قاري صاحب د تلاوت پوره کولو نه فوراً پس اَللّٰهُ رَبُّ العَالَمِین وائي بیا د دې نه پس صَدَقَ اللّٰهُ مَولَانَا العظیم لولي داسې کول څنګه دي؟

جواب: په فتاویٰ حدیثیه کښې دي د سورۂ ملک ختمولو نه پس "اَللّٰهُ رَبُّ العَالَمِین" وئیل مستحب دي. (فتاویٰ حدیثیه، ص376) په صَدَقَ اللّٰهُ مَولَانَا العظیم وئیلو کښې هم څه باک نشته چې د دې مطلب دے "اللّٰه پاک رښتیا اوفرمائیل." یقیناً اللّٰه پاک رښتیا اوفرمائیل مونږه هم دا رښتیا منو.

(ملفوظاتِ امیرِ اهلسُنت، 94/2)

سوال: بعضې د قرآنِ پاک حافظان د حفظ په وخت د 15، 15 سیپارو تلاوت کوي، خو د حفظ کولو نه پس د هغوئي د نیمې سیپارې تلاوت کولو توفیق هم نه نصیب کیږي، د داسې ګسانو په باره کښې څه فرمائي؟

جواب: واقعي بعضې د قرآنِ کریم حافظان د قرآنِ حفظ کولو نه پس بیا دا نه برسیره کوي او ګنتې ګنتې په ګپونو کښې تیروي، د سوشل میډیا استعمالولو په وخت دوئي ته پته هم نه لګي چې هغوئي د سترګو په رَپ کښې د کوم ځائے نه کوم ځائے ته لاړل، د اسلامي خویندو حال د دې نه بد دے. یاد ساتئ! حفظ کول خو آسان کار دے، خو حفظ ساتل ئې ګران کار دے. دا خبره هم په ذهن کښې کیښنوئ چې قرآنِ کریم عموماً په کال، دوه کاله یا درې کاله کښې پوره حفظ کیږي، خو دا ټول عمر یاد ساتل

او لوستل وي، ځکه چې کوم حافظان کولے شي هغوئي دې هره ورځ د قرآنِ کريم يو منزل تلاوت کوي، دغه شان به په يوه مياشت کښې دوئي څلور ځله په آسانئ سره د قرآنِ پاک ختم اوکړے شي، که يو منزل تلاوت نشي کولے نو کم نه کم هره ورځ دې يوه سيپاره تلاوت کوي چې چا حفظ نه وي کړے د هغوئي په مقابله کښې به پرې دے دومره ډير وخت نه اخلي.

**ياد ساتئ!** يوه سيپاره هم د تجويد او قاعدو د رعايت سره لوستل ضروري ده لکه مدات وغيره، د حَدَر والا انداز کښې د لوستلو په شکل کښې به پرې د 20 نه 25 منټه وخت لګي، خو د حَدَر انداز هم داسې پکار دے کوم ته چې د قاريانو صاحبانو تر سنګ هم حدر وئيلے شي، ځکه چې بعضې حافظان ئې دومره زر وائي چې اوريدونکي د يَعلَمُونَ تَعلَمُونَ نه علاوه په هيڅ پوهه نشي، هغوئي لفظونه او حروف خوري او د مدات وغيره بالکل هم خيال نه ساتي. ځوک چې د قرآن حافظان نه دي نو هغوئي دې هم هره ورځ يوه سيپاره لولي چې په شجره شريف کښې هره ورځ د يوے سيپارې لوستلو ترغيب موجود دے. بهر حال الله پاک چې چا له توفيق ورکړې هم هغه خوش قِسمته د قرآن په تلاوت کولو کښې کاميابيږي، ګنې نو حقيقت دا دے چې د ډيرو خلقو د قرآن تلاوت ته ډېې نه لګي.

**سوال:** که ځوک د قرآنِ کريم د تلاوت کولو په وخت غلطي کوي نو آيا په

ګڼه کښې د هغه اِصلاح کولے شي؟

جواب: که داسې خطرناکه غلطي ئې اوکړه په کومې چې معنٰی بدلیږي نو بیا په ګڼه کښې د هغه اصلاح پکار ده خو چې د فساد اندیښنه نه وي. (غنیة المتملي، ص:498 مفهوماً) که د تجوید غلطي لکه "غُنّه یا اِخفا" ئې نه وي کړې نو هغه ته دې په ګڼه کښې نه وئیلے کیږي، بلکه ځانله دې په حکمتِ عملئ او نرمئ سره دې طرف ته پام را اوګرځولے شي.

(ملفوظاتِ امیر اهلسُنت، 298/3)

سوال: د ګرځیدو په حالت کښې، د پیزار سره یا بے اودسه قرآنِ پاک لوستل څنګه دي؟

جواب: بے اودسه قرآنِ کریم لوستل جائز دي خو قرآنِ کریم له بے اودسه لاس وروړل جائز نه دي. (درمختار مع ردالمحتار، 348/1) د پیزار اچولو سره په قرآنِ کریم لوستلو کښې هیڅ باک نشته.

(ملفوظاتِ امیر اهلسُنت، 511/3)

سوال: هره ورځ د قرآنِ کریم څومره تلاوت پکار دے؟

جواب: که ټول قرآنِ پاک هم اولولې نو بیا هم ناجائزه نه دے. هره ورځ څومره لوستل پکار دي نو په شجرهٔ قادریه کښې هره ورځ د یوے سیپارې تلاوت لیکلے شوے دے د پاره د دې چې په یوه میاشت کښې یو ځل د قرآنِ کریم ختم اوکړے شي. زمونږه بعضې طالب علمان داسې هم

دي کوم چې هره ورځ د قرآنِ کريم د يو منزل ختم کوي. په قرآنِ کريم کښې 7 منزلونه دي نو هغوئي په اووه ورځو کښې د قرآنِ کريم ختم کوي ځکه چې څومره لوستلے شي لوستلے شي او کوشش کوئ چې تر څو پورې مو زړه غواړي تر هغه وخته پورې ئې لولئ، که هره ورځ يو منزل اولوستلے شي نو مدينه مدينه.

(ملفوظاتِ امیر اهلسُنت، 514/3)

**سوال:** په بس کښې مو د ائير فون په ذريعه ريکارډ شوے د قرآنِ پاک تلاوت اوريدو، په دې کښې د سجدې آيت راغلے نو دا سجده به د سر ښکته کولو سره ادا شي؟

**جواب:** په ريکارډ شوي تلاوت کښې د سجدې د آيت اوريدو سره سجده نه واجب کيږي او د سر ښکته کولو هم څه حاجت نشته.

(ملفوظاتِ امیر اهلسُنت، 482/3)

**سوال:** په مدني چينل باندې که Live د سجدې آيت واوريدو نو آيا سجده به واجب کيږي؟

**جواب:** په مدني چينل يا په هر يو چينل باندې که Live (نيغ په نيغه) د سجدې آيت واوريدو نو سجده نه واجب کيږي.

(فتاوٰی رضویه، 446/23، مفهوماً وقار الفتاوىٰ، 113/2)(ملفوظاتِ امیر اهلسُنت، 488/3)

**سوال:** که د چا نه د تلاوت ډيرې سجدې پاتې شوې وي نو د هغې د ادا

کولو طريقه څه ده؟

جواب: څومره سجدې چې پاتې شوې وي هغه دې ادا کړي، د "اَللهُ اَكْبَر"وئيلو سره دې سجده اوکړي، په سجده کښې دې درې ځله"سُبحانَ رَبِّیَ الاَعلٰی"

اولولي. بيا دې کښيني او بيا دې د "اَللهُ اَكْبَر" وئيلو سره هم دغه شان اوکړي، داسې چې څومره سجدې دي هغه دې پوره کړي. (فتاوىٰ هنديه، 135/1) د تلاوت د سجدې د پاره په اوداسه کښې اوسيدل، د قبلې په لور مخ کول او د ځائے پاکوالے ضروري دے.

(در مختار مع رد المحتار، 699/2)(ملفوظاتِ امير اهلسُنت، 522/3)

سوال: که د قرآنِ پاک تلاوت کيږي نو آيا بنده دُرُودِ پاک لوستلے شي؟

جواب: کوم خلق چې د قرآن د اوريدو د پاره راجمع شوي وي په هغوئي باندې فرضِ عين دے چې هغوئي په پوره توجه سره د قرآنِ کريم تلاوت واوري. (ملفوظاتِ امير اهلسُنت، 352/23)او که د څه ځائے نه د تلاوت آواز راځي او دے د وړاندې نه په خپل کار روزګار کښې مشغول وي نو په ده باندې اوريدل فرض نه دي.

(غنية المتملي، ص: 497)(ملفوظاتِ امير اهلسُنت، 488/3)

سوال: که د قرآنِ کريم د تلاوت په وخت اذان شروع شي نو آيا تلاوت اودرول پکار دي؟

جواب: آو جي! د تلاوت اودرولو سره د اذان جواب ورکول پکار دي. (فتاویٰ هندیه، 57/1) البته چې د کوم آیت تلاوت کوي هغه پوره کول پکار دي یا کم نه کم دومره حصه ئې لوستل پکار دي د کومې سره چې معنٰی پوره شي. د اذان نه علاوه هم چې کله تلاوت اودرول وي نو د پوره آیت لوستلو نه پس اودرول پکار دي، دغه شان که نعت شریف وائې نو د هغې د شعر پوره کولو سره نعت شریف اودرول پکار دي، که مدني چینل بندول وي او په هغې باندې تلاوت یا نعت راځي، په دې کښې هم د دې خبرې خیال ساتل پکار دي چې آیت یا شعر پوره شي بیا دې مدني چینل بند کړے شي. زما ډیر زوړ عادت دے چې څنګه به د بیان د پاره تللم یا چې کله هم د مدني مذاکرې د پاره راځم او تلاوت کیږي یا څه مسئله یا حکایت بیانیږي نو که چرې زما پام نه وي نو په مینځ کښې راشم ګني نو اودریږم، د پاره د دې چې تلاوت ختم شي او مسئله یا حکایت پوره شي، ګني نو خلق به اودریږي او نعرې به شروع کړي د کومو سره چې به تلاوت وغیره په مینځ کښې اودریږي یا په لوستلو او اوریدلو کښې به خنډان پیدا شي.

(ملفوظاتِ امیرِ اهلسنت، 447/3)

سوال: په مقبره کښې په اوچت آواز قرآنِ کریم لوستل څنګه دي؟

جواب: ښه خبره ده خو چې څه بَل خنډ پکښې نه وي.

(ملفوظاتِ امیرِ اهلسنت، 473/3)

سوال: د نوکرئ په وخت د قرآنِ کريم تلاوت کولے شي؟

جواب: که پرائيويټ (غير سرکاري نوکري) وي او مالک اجازت درکړے وي نو بيا هيڅ مسئله نه ده (حلال طریقے سے کمانے کے 50مدنی پھول، ص:19مفهوماً) او که داسې نوکري ده چې د تلاوت کولو په وخت ستاسو په کار باندې څه فرق نه پريوځي بيا هم جائز دے. لکه څنګه چې په بنګلو کښې څوکيداران ډيوټي کوي، يا په ناسته ناسته تلاوت کوي يا په تسبيح سره دُرُود شريف لولي نو په دې کښې هيڅ باک نشته. څنګه چې موقع وي هغسې به اجازت وي.

(ملفوظاتِ امیر اهلسنت، 412/3)

سوال: د سوره يٰسين لوستلو سره د 10 قرآنِ پاک د ختم ثواب ميلاويږي نو آيا مونږ به ټول قرآنِ پاک لولو يا صرف سورهٔ ياسين لولو؟

جواب: د سورهٔ يٰسين د تلاوت سره د 10 قرآنِ پاک د ختم ثواب ميلاويږي. (ترمذی، 406/4، حدیث: 2896) دغه شان درې ځله د سوره اخلاص لوستلو سره د ټول قرآن لوستلو ثواب کيږي خو بيا هم د قرآنِ پاک تلاوت کول پکار دي. (مسلم، ص: 315، حدیث: 1886) مور و پلار ته د رحمت په نظر کتلو سره د يو قبول شوي حج ثواب کيږي. (شعب الایمان، 186/6، حدیث: 7856) اوس که په ورځ کښې 100 ځله اوګورې نو د 100 حجونو ثواب به کيږي خو د دې سره سره د کعبې طواف هم کول دي، د صفا او مروه سعي هم کول دي، د ميدانِ عرفات وقوف هم کول دي يعنې په دې مُقَدَّسو

ځايونو د حاضرئ ورکولو سره حج کول دي او په کور کښې د مور پلاړ زيارت کولو سره په کور کښې هم د حج ثواب ګټل دي.[1]

(ملفوظاتِ امير اهلسنت، 362/3)

---

[1] .... داسې په حديثونو مبارکو کښې د عبادتونو ثواب مراد وي نه چې اصلي عبادت لکه څنګه چې په حديثِ پاک کښې دي: څوک چې د ماښام نه پس شپږ رکعته [نفل] اوکړي د کومو په مينځ کښې چې هيڅ بده خبره اونکړي نو دا به د 12 کالو د عبادت برابر وي. (ترمذي، 439/1، حديث: 435) د دې حديثِ پاک لاندې حکيمُ الامت حضرت مفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: ياد ساتئ چې د داسې قسمه حديثونو نه په فضيلتونو کښې د عبادت ثواب مراد وي نه چې اصلي عبادت، ځکه د دې دا مطلب نه دے چې يو ځل د اَوابين لمُونځ اوکړې او بيا د 12کالو پورې بے پرواه شې. (مرأة المناجيح، 226/2) دغه شان په يو بل حديثِ پاک کښې دي: څوک چې د الله پاک د پاره سحر او ماښام سل سل ځله سُبحانَ الله اولولي نو هغه د 100 حجونو کولو په شان دي- (ترمذي، 288/5، حديث: 3482) اوس د دې حديثِ پاک دا مطلب نه دے چې سحر او ماښام سل سل ځله دا تسبيح اولولي او حج نه کوې د دې حديثِ پاک په شرح کښې مفتي صاحب فرمائي: ياد ساتئ چې د حج ثواب بَل دے، د حج ادا بَله ده، دلته د ثواب ذِکر دے نه چې د حج د ادا کولو، لکه څنګه چې اَطِبّاء وائي چې "په يوه کرمه کړے شوې مُنَقّه (يعني يو قِسم غټو وَسکو) کښې د يوې ډوډئ طاقت دے" خو خيټه په ډوډئ باندې مړيږي، يو کَس دوه وخته د دريو دريو مُنَقّو خوړلو سره ژوند نشي کولے- واقعي په دې تسبيحاتو (يعني سُبحانَ الله سحر او ماښام سل سل ځله وئيلو) کښې هم دومره ثواب دے خو حج به په کولو کيږي. (مرأة المناجيح، 346/3)

سوال: د ټوپۍ په سر کولو نه بغیر د قرآنِ کریم لوستل څنګه دي؟

جواب: جائز دي، خو ادب دا دے چې سرتور سر نه ئې. مستحب دا دي چې د قرآنِ مجید د تلاوت د پاره عِمامه په سر کړې، ښې جامې واغوندې، خوشبو اولګوې او کعبې شریفې طرف ته د مخ کولو سره په دواړو زنګونانو کښېني. (بهار شریعت، 550/1، حصه: 3ماخوذاً) خومره چې په ادب د کښیناستو سره تلاوت کوې دومره به زیات برکتونه حاصلیږي.

(ملفوظاتِ امیر اهلسنت، 116/4)

سوال: د تجوید د اهمیت او د قرآنِ کریم د غلط مخارج سره د لوستلو په وجه د کیدونکو غلطیانو یو څو مثالونه بیان کړئ.

جواب: دومره تجوید هر چا له ورتلل پکار دي چې مَایَجُوزُ بِهِ الصَّلٰوۃُ تر حده پورې وي یعنې د کوم سره چې لمُونځ جائز او صحیح شي، دا ضروري ده. (فتاویٰ رضویه، 343/3 ماخوذاً) یاد ساتئ! په لمُونځ کښې چې خومره قرآنِ پاک لوستل فرض او واجب دي هم دومره یادول هم ضروري دي. (در مختار مع رد المحتار، 315/2) عام طور په رَمَضَانُ الْمُبَارَک کښې په خلقو کښې داسې جذبه وي چې هغوئي د ټول قرآنِ کریم تلاوت کوي، بعضې خوش نصیبه خو مَاشَآءَ الله! د یو نه زیات ځله د قرآنِ کریم ختم کوي. خو دوئي له پکار دي چې یو قاري ته خپل قرآنِ پاک واوروي او د هغه نه راهنمائي حاصله کړي چې آیا هغوئي ئې صحیح لولي که نه؟ الله دې نه کړي که

صحیح لوستل نه ورځې نو یو ځل سورۀ فاتحه صحیح لوستل به د 100 ځله (داسې) قرآنِ پاک د ختم کولو نه افضل وي.

اَلْحَمْدُ لِلّٰہ! د دعوتِ اسلامي تحت ”مدرسة المَدینه آن لائن“ سروس موجود دے د کوم په ذریعه چې قرآنِ کریم لوستل هم زده کولے شي، لمُونځ هم ښودلے شي او نور هم ډیر کورسز د دې شعبے تحت کولے شي، دا ټول کورسز په خپل کور کښې هم کیدے شي، ځکه د ”مدرسة المَدینه آن لائن“ سروس په ذریعه په خپل کور کښې قرآنِ پاک صحیح کړئ. بهر حال د قرآنِ کریم غلط لوستلو په تعلق سره ما څه الفاظ لیکلي وو په هغې کښې یو څو الفاظ عرض کووم د کومو د غلط لوستلو سره د هغې معاني بدلیږي:

## د قرآنِ کریم غلط لوستلو یو څو مثالونه

**(1)** یو حرف د بَل حرف سره د بدلولو سره معنٰی بدلیږي مثلاً ډیرو خلقو له په ”اَلْحَمْدُ لِلّٰہ“ کښې موجود لفظ د ”حمد“ ”حا“ د حلق نه ویستل نه ورځي ځکه هغوئي ”اَلْهَمْدُ“ لولي. په ”اَلْهَمْدُ“ او ”اَلْحَمْدُ“ کښې څه فرق دے اوګورئ: د حمد معنٰی ده ”خوبي، تعریف“ که د ”اَلْحَمْدُ لِلّٰہ“ په ځائے ”اَلْهَمْدُ“ اولوستلے شي نو د دې چې به کومه معنٰی جوړیږي د هغې د وئیلو همت نشته خو د ”همد“ معنٰی عرض کووم: د ”همد“ معنٰی ده: د اور کمیدل، نري کیدل.

**(2)** (قُلۡ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ ۚ) (پ: 30، الاخلاص: 1) مفهوم ترجمهٔ کنزُ الایمان: "تاسو اوفرمائې هغه الله دے هغه یو دے." "قُل" د دوو نقطو والا په قاف سره راځي ولې بَل د ډنډې والا کاف سره راځي يعنې "کُل". د "قُل" معنیٰ ده "اووائې يا اوفرمائې" ولې د ډنډې والا کاف سره د "کُل" معنیٰ ده "اوخوره" لږ سوچ اوکړئ! په دواړو کښې څومره فرق دے.

**(3)** د "قَالُوا" معنیٰ ده "هغوئي اووئيل" ولې د ډنډې والا کاف سره اولوستلے شي نو معنیٰ به وي: هغوئي ناپ کړل، هغوئي پیمائش اوکړو.

**(4)** د الله پاک يو صفت "عَلِيم" دے، که دا لفظ د "عين" سره لولې نو معنیٰ به وي "پوهيدونکے" په قرآنِ پاک کښې دي: (اِنَّهٗ عَلِيۡمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُوۡرِ ۝) (پ: 10، الانفال: 43) مفهوم ترجَمهٔ کنزُ الایمان: "بے شکه هغه د زړونو په خبرو پوهيږي" ولې چې د "اَلِف" نه "اَلِيۡم" اولوستے شي نو معنیٰ به وي "دردناک" لږ سوچ اوکړئ! په دواړو کښې څومره فرق دے! خو دلته ډير خلق د تلاوت کولو په وخت دا لفظ "اَلِيم" لولي خاص طور په میمن او ګجراتي قوم کښې په "عين" او، "اليف"، "حاء" او "هاء" کښې دومره فرق نشي کولے څکه که داسې خلق تر څو پورې د يو ښه قاري نه نهٔ لولي نو تر هغه وخته پورې به دوئي له په صحيح طريقه د قرآنِ کريم لوستل نه ورځي. د خپل مخارِج صحيح کولو د پاره په مدرسة المَدينه کښې داخله واخلئ، اِنۡ شَآءَ اللّٰهُ الۡکَرِيۡم! مخارِج به صحيح شي.

**(5)** ”عَلَم“ چې په ”عين“ سره اولولې نو معنٰی به وي ”جنډا يا بيرغ“ كه د ”الِف“ نه ”اَلَم“ اولوستے شي نو معنٰی به وي ”غم“.

**(6)** ”عَمَل“ كه د ”عين“ سره اولوستے شي نو معنٰی به وي ”كار“ كه د ”الِف“ نه ”اَمَل“ اولوستے شي نو معنٰی به وي ”اُميد“.**(7)** په سورهٔ كوثر كښې دي: ﴿وَ انْحَرْ ۝﴾ (پ:30، الكوثر:2) مفهوم ترجَمهٔ كنزُ الايمان: ”او قرباني اوكړه.“ كه دا د ”هاء“ نه ”وَانهر“ اولوستلے شي نو معنٰی به وي ”او اورَتّه يا او ستغې سپورې اووايه“ لږ غور اوكړئ! په دواړو كښې څومره فرق دے.

بهر حال قرآنِ كريم صحيح زده كول لازمي دي، څكه اسلامي وروڼو يا اسلامي خويندو ټولو له قرآنِ كريم صحيح زده كول پكار دي، خاص طور مشرانو زنانؤ له څكه چې هغوئي ته د مخارِج د صحيح والي په حقله ډيرې مسئلے وي، كه څوك د 100 كالو مشره زنانه ده او هغې له قرآنِ كريم صحيح لوستل نه ورځي نو هغې له هم قرآنِ كريم زده كول پكار دي او كه د زده كولو كوشش كوي نو اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! ثواب به ئې هم كيږي.

(ملفوظاتِ امير اهلسنت، 278/6)

**سوال:** د تلاوت په وخت كه د تلاوت سجده راشي نو آيا په هغه وخت د اودريدلو سره سجده كول پكار ده؟ بعضې خلق د تلاوت ختمولو نه پس سجده كوي، داسې كول څنګه دي؟

**جواب:** که څه خنډ نه وي نو هغه وخت سجده کول بهتر کار دے. البته که وروستو ئې اوکړه نو بیا پکښې هم څه ګناه نشته. کله چې سجده واجب شوه نو هم هغه واجب ادا کول دي.

(د امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ سره په خوا کښې ناست مفتي صاحب اوفرمائیل:) که بنده په اودس کښې وي نو هم هغه وخت د تلاوت سجده کول بهتره خبره ده او بغیر د ضرورت نه وروستو کول مکروهِ تنزیهي دي.

(در مختار، 703/2) (ملفوظاتِ امیر اهلسنت، 265/5)

**سوال:** سورۂ یٰسین د وظیفے په طور لوستل چې زما فلانکے کار اوشي، آیا دا جائز دي؟

**جواب:** سورۂ یاسین شریف د وظیفے په طور یا د څه بَل حاجت د پاره لوستل جائز دي، که حاجت ناجائزه وي نو بیا بیله خبره ده، د جائز حاجت د پاره په لوستلو کښې هیڅ باک نشته. وظیفه کول دي نو د دې به څه خاص شمیره وي او داسې کار د چا په راهنمائي کښې کولے شي، په ځانله کولو کښې رِسک وي چې خوګ نه شي. وړومبے خو یٰسین شریف چا قاري صاحب ته واوروئ چې صحیح ئې لوستلے هم شئ که نه؟ که صحیح ئې لوستلے شئ نو د چا صاحبِ اجازت په صحبت کښې د پاتې کیدو سره د هغه په راهنمائي کښې دې د دې وِرد اوکړے شي، عام طور راهنما ډیر کم میلاویږي. زما خو مشوره دا ده چې د مصیبتونو نه د بچ

کیدو د پاره او نور هم ډیر اوراد او وظیفے دي هغه کوئ او "صلاۃ الحاجات" کوئ ځکه چې د وظیفو وهلو ما لیدلي دي، بعضې وخت داسې درز خوري د کوم صحیح کیدل چې ګران شي، علاج اثر نه کوي، دماغ فیل شي، بیا هغوئي کانې وَلي او کنزلې کوي، د داسې خلقو د سمبالولو د پاره په زنځیرونو باندې تړل او پته نه لګي چې څه څه کول وي، داسې ټول خاندان په دې کښې تباه شي ځکه بغیر د چا راهنما نه دې داسې وظیفے نه کولے کیږي. که تاسو په جامع شرطونو باندې د پوره پیر صاحب مریدان ئې، د کوم چې د شریعت مطابق پوره ګیره وي او هغه عالِمِ دِین وي نو د هغوئي په "شجره" کښې ورکړے شوې لنډ اوراد او وظیفے کوئ. زما مشوره دا ده چې د هر درد دوائي ده صَلِّ عَلٰی مُحَمَّد، دُرُود شریف زیات وئیل ډیره لویه وظیفه ده، د دې په برکت سره به اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِیم! ټولې مسئلے به حل شي.

(ملفوظاتِ امیرِ اهلسنت، 331/5)

سوال: آیا په کور کښې د قرآنِ کریم د ریکارډ کړے شوي تلاوت سره کار کولے شي؟


جواب: د قرآنِ پاک د ریکارډ کړے شوي تلاوت اوریدو هغه آداب نه دي کوم چې نیغ په نیغه (یعني بغیر د ریکارډ والا) تلاوت اوریدو دي، په ریکارډ کړے شوي تلاوت کښې هم قرآنِ کریم لوستلے شي ځکه که

خوک اوریدونکے نه وي نو دا دې بند کړے شي. داسې ریکارډ کړے شوے نعت شریف هم لګولے شي هغه هم که اوریدو والا نه وي نو بندول پکار دي.

(ملفوظاتِ امیر اهلسنت، 93/6)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

د راتلونکې هفتې رساله




عالمي مدني مركز فيضان مدينه محله سوداگران پراڼي سبزي منډي کراچي
UAN: +92 111 25 26 92 Ext: 7213
Web: www.dawateislami.net / E-mail: translation@dawateislami.net